# د اللہ پاک د 99 نومونو بَرَکتونه

پښتو





پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# دَ اللّٰه پاك د ۹۹ نومونو بَرَكتونه

**دعائے عطّار:** يا الله پاکه! څوك چې دا رساله "د اللّٰه پاك د ۹۹ نومونو بَرَكتونه" اولوَلي يا ئې واوري د هغه په رِزق کښې بَرَکت واچوې او په هغه باندې دُنيا و آخرت کښې خپل خاص فضل و کَرَم اُوفرمائې. او هغه بے حسابه اُوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د اللّٰه پاك آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې په ما باندې (100) سَل ځله دُرُود شريف اولوستو **اللّٰه** پاك د هغه د دواړو سترګو د مينځه اولِيکې چې دا د نِفاق او د جهنّم د اُور نه آزاد دے او هغه به په ورځ د قيامت د شهيدانو سره ساتي.

(مُعجم اَوسط [illegible]، حديث [illegible]، دارُالکتب العلمية بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تاسو انسان ئې که پيرے؟

د مشهور صحابي حضرت سيّدُنا ابودَردا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وِينزې يوه ورځ عرض اُوکړو: جناب! رښتيا اُووائې چې تاسو انسان ئې که پيرے؟ هغوئي اوفرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه زه انسان يم. هغې اُووئيل: ما ته خو انسان نه ښکارئ ځکه چې زه د څلويښتو ورځو نه مُسلسل تاسو ته زَهَر دَرکووم خو تاسو ته ئې يوه ذره نُقصان

هُم نه درنکړو! هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اوفرمائيل: آيا تا ته معلومه نه ده چې ثوك په هر حال کښې د الله پاك ذِکر کوي هغوئي ته يو څيز هم نُقصان نه شي وَرکوَلے او زه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اِسمِ اعظم شريف سره د الله پاك ذِکر کووم. هغې تپوس اُوکړو: هغه اِسمِ اعظم کوم يو دے؟ هغوئي اُوفرمائيل: (زه هر وخت د خوراک څښاك نه مخکښې دا دُعا لوَلم:)

بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَھُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ۔

(يعني د الله پاك په نوم شروع کووم چې د هغه د نوم له برکته د زمکې او آسمان يو څيز هم نقصان نه شي ورکولے او هغه اوري او پوهيږي)

د دې نه پس ورته هغوئي اوفرمائيل چې تا ما ته په څه وجه زهر راکوَل؟ هغې اُووئيل: زما تاسو سره بُغض وو، دا جواب ئې چې واوريدلو نو سمدستي ئې اوفرمائيل: ته لِوَجۡهِ اللّٰهِ (يعني د الله د رضا د پاره) آزاده ئې او تا چې زما سره څه اُوکړل هغه مې هم درته مُعاف کړل.

(حياةالحيوان الکُبرٰی، باب الحاء، دارُالکتب العلمية بيروت فيضانِ بسمِ الله ص، مکتبةُ المدينه کراچي)

## 99 اسماءِ حُسنٰی او د هغې فضائل

د هرې وظيفے په اول آخر کښې يو ځل درود شريف لولئ، د فائدے نه ظاهريدو په صورت کښې د شکايت کولو په ځائے د خپلو خطا ګانو نتيجه اوګڼړئ او د الله تعالٰی په مَصلَحَت نظر اوساتئ.

۞ يَـا اَللّٰهُ چې څوك د هر لمانځه نه پس 100 ځله لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالٰی د هغه باطِن به فراخه شي.

﴿ هُوَاللّٰهُ الرَّحِيۡمُ چې څوك د هر لـمانځه نه پس ووه [7] ځله لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د شيطان د شر نه به بچ اوسي او د هغه به په اِيمان خاتِمه کيږي.

﴿ يَاقُدُّوۡسُ د دې چې څوك د سفر په دوران کښې وظيفه کوي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ سترې کيدو نه به په حفاظت کښې اوسي.

﴿ يَارَحۡمٰنُ چې څوك د سحر د لـمانځه نه پس 298 ځله لولي، الله تعالیٰ به په هغه ډير رحم کوي. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ

﴿ يَارَحِيۡمُ چې څوك هره ورځ 500 ځله لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ دولت به حاصل کړي او مخلوق به پرې مهرباني او شفقت کوي.

﴿ يَامَلِكُ 90 ځله چې کوم غريب او بے اسره کس ئې هره ورځ لولي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د غريبئ نه به خلاصے حاصل کړي.

﴿ يَاسَلَامُ چې 111 ځله اولولئ او بيمار پرې دَم کړئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه ته به شِفا حاصله شي.

﴿ يَامُؤۡمِنُ چې څوك 115 ځله اولولي او ځان پرې دم کړي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ تندرستي به حاصله کړي.

﴿ يَامُهَيۡمِنُ 49 ځله هره ورځ لوستلو والا به اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هر آفت او بَلا نه په حفاظت کښې اوسي.

﴿﴾ يَاعَزِيْزُ 41 ځله د حاكِم يا افسر خوا ته تللو نه مخكښې اولولئ، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ هغه حاكِم يا افسر به مهربانه شي.

﴿﴾ يَاجَبَّارُ څوك چې مسلسل د دې وظيفه لوَلي د خپل غيبت نه به اِنْ شَآءَالله تعالیٰ بچ اوسي.

﴿﴾ يَامُتَكَبِّرُ 21 ځله هره ورځ لوَلئ، كه د ويرې خوبونه وِينئ نو اِنْ شَآءَالله تعالیٰ خوب كښې به نه ويريږئ. (د علاج ميعاد: شِفا حاصليدو پورې)

يَامُتَكَبِّرُ خپلې ښځې سره ”كور والې“ نه مخكښې 10 ځله لوستلو والا به اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د نيك ځوئ پلار جوړيږي.

﴿﴾ يَاخَالِقُ چې څوك 300 ځله اولولي اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د هغه دُښمن به مغلوبه شي.

﴿﴾ يَابَارِئُ چې څوك 10 ځله هره جُمُعه لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د هغه به ځوئ اوشي.

﴿﴾ يَامُصَوِّرُ كومه شنده ښځه چې ووه روژے اونيسي او د روژه ماتي په وخت كښې 21 ځله اَلْمُصَوِّرُ لوَلي او اوبه پرې دموي او څښي ئې، الله تعالیٰ به هغې ته نيك ځوئ وركړي. اِنْ شَآءَالله تعالیٰ

﴿﴾ يَاغَفَّارُ څوك چې دا هميشه لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د نفس د بدو خواهشاتو نه به خلاصے مومي.

﴿﴾ يَاقَهَّارُ كه څه مصيبت پيښ شي نو 100 ځله اولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ مُشكِل به آسان شي.

﴿﴾ يَاوَهَّابُ چې څوك هره ورځ 7 ځله لوَلي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ مُسْتَجَابُ الدَّعَوَات به شي. (يعني د هغه هره دُعا به قبليږي)

﴿﴾ يَارَزَّاقُ چې څوك د سحر د سُنَّتو او فرضو د مينځه 41 ورځو پورې 550 ځله اولولي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ دولتمند به شي.

﴿﴾ يَافَتَّاحُ 70 ځله، چې څوك هره ورځ د سحر د لمانځه نه پس دواړه لاسونه په سِينه باندې كيږدي او لوَلي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د هغه د زړه زَنګ او خِيرے به لرې شي.

يَافَتَّاحُ 7ځله چې څوك هره ورځ (كه هر وخت په ورځ كښې يو ځل) لوَلي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د هغه زړه به روښانه شي.

﴿﴾ يَاعَلِيْمُ څوك چې دا اِسمِ مبارك زيات لوَلي، الله تعالىٰ به هغه ته د دِين او دُنيا معرفت وركړي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ

﴿﴾ يَاقَابِضُ چې څوك 30 ځله هره روځ لوَلي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ هغه به د دُښمن خلاف فتح حاصلوي.

﴿﴾ يَابَاسِطُ چې څوك هره ورځ 40 ځله لوَلي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د مخلوق نه به بے پرواه شي.

﴿۞﴾ يَاخَافِضُ خوك چې دا 500 ځله اولولي اِنْ شَآءَالله تعالٰی د دُښمن نه به په امان كښې اوسي.

﴿۞﴾ يَارَافِعُ چې خوك هره ورځ 20 ځله لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالٰی د هغه مُراد به پوره كيږي.

﴿۞﴾ يَامُعِزُّ خوك چې دا د ماسخُتن د لمانځه نه پس د جُمُعے په شپه 140 ځله اولولي، د مخلوق په نظر كښې به د هغه عِزَّت او حُرمَت او هيبت زيات شي. اِنْ شَآءَالله تعالٰی

﴿۞﴾ يَاحَكَمُ چې خوك پينځه وخته لمانځه نه پس 80 ځله لوَلي، د چا مُحتاجه كيږي به نه. اِنْ شَآءَالله تعالٰی

﴿۞﴾ يَابَصِيْرُ چې خوك 7 ځله هره ورځ د مازديګر په وخت (يعني د مازديګر روا كيدو نه د لمر پريوتو پورې، په دې دوران كښې) لوَلي. اِنْ شَآءَالله تعالٰی د ناڅاپه مرګ نه به محفوظه اوسي.

﴿۞﴾ يَاسَمِيْعُ چې خوك هره ورځ 100 ځله لوَلي او په دې دوران كښې خبرې نه كوي او لوستلو نه پس دُعا اوكړي، اِنْ شَآءَالله تعالٰی څه چې غواړي هغه به حاصل كړي.

﴿۞﴾ يَامُذِلُّ چې خوك 75 ځله اولولي او سَجده اوكړي او اُووائي چې يا اِلٰهِي عَزَّوَجَلَّ د فلانكي ظالِم د شر نه ما په حفاظت كښې اوساتې، الله تعالٰی

به هغه ته امان ورکړي او په خپل حفاظت کښې به ئې ساتي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی

يَا عَدْلُ چې څوك د ماښام د لـمانځه نه پس 1000 ځله لوَلي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د آسماني بلاګانو [يعني مصيبتونو] نه به خلاصے مومي.

يَا لَطِيْفُ د لونړو نصيب ښه کيدو د پاره او د مرضونو نه شفا حاصلولو او مُشکِلاتو نه نجات حاصلولو د پاره دِ هره ورځ تَحِيَّةُ الْوُضُوء نه پس 100 ځله لوَلي.

يَا خَبِيْرُ څوك چې د نَفسِ اَمّاره په لاس کښې ګرفتار وي نو هره ورځ دِ د دې وظيفه لوَلي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی نجات به حاصل کړي.

يَا حَلِيْمُ څوك چې دا په کاغذ اوليکي، بيا ئې اُووِينځي او [هغه اوبه] په خپل پټي کښې اوشيندي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی فصل به د هر آفت نه په حفاظت کښې اوسي.

يَا عَظِيْمُ چې څوك 7 ځله اولولي او اوبه پرې دم کړي او هغه اوڅښي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د هغه په خيټه به نه درد کيږي.

يَا غَفُوْرُ د چا چې په سر درد وي يا پرې څه بيماري يا غم راشي، درې ځله دِ د يَا غَفُوْرُ مُقَطَّعات اوليکي (يعني دا اِسمِ پاك دِ په کاغذ اوليکي او په هغه لَـمده سياهي دِ د ډوډۍ ټُکړه پورې کړي او هغه نقش دِ په ډوډۍ کښې جذب کړي) او اُو دِ ئې خوري، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی شِفا به حاصلوي.

﴿﴾ يَا شَكُوْرُ چې څوك 5000 ځله هره ورځ لوَلي اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د قيامت په ورځ به ئې مرتبه اوچته وي.

﴿﴾ يَا عَلِيُّ چې څوك درې ځله اولولي او پړسوب پرې دم كړي اِنْ شَآءَالله تعالیٰ ښه به شي.

﴿﴾ يَا كَبِيْرُ چې څوك 9 ځله اولولي او بِيمار پرې دم كړي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ صِحَت ياب به شي.

﴿﴾ يَا حَفِيْظُ چې څوك 16 ځله هره ورځ لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ په هر شان به بهادُر شي.

﴿﴾ يَا مُقِيْتُ د چا سترګه چې سره شي او درد كوي 10 ځله دِ دا اولولي او پرې دم دِ ئې كړي.

﴿﴾ يَا حَسِيْبُ چې څوك هره ورځ 70 ځله لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ د هر آفت نه به محفوظه اوسي.

﴿﴾ يَا جَلِيْلُ چې څوك 10 ځله اولولي او خپل مال و اسباب پرې دم كړي، اِنْ شَآءَالله تعالیٰ غلا كيدو نه به محفوظه اوسي.

﴿﴾ يَا كَرِيْمُ كه په خپله بستره كښې په وئيلو وئيلو اُوده شي نو فرښتے به د هغه د پاره دُعا كوي. اِنْ شَآءَالله تعالیٰ

﴿﴾ يَا رَقِيْبُ څوك چې ئې درې ځله اولولي او دانے پرې دم كړي نو اِنْ شَآءَالله تعالیٰ شِفا به ئې اوشي.

۞ يَامُجِيْبُ چې خوك درې ځله اولولي او د سر درد پرې دم كړي نو اِنْ شَآءَالله تعالٰی درد به ئې ښه شي.

۞ يَاوَاسِعُ چې خوك لړم اوچيچلو نو دا دِ 70 ځله اولولي او پرې دم دِ ئې كړي، اِنْ شَآءَالله تعالٰی زهر به اثر نه كوي.

۞ يَاحَكِيْمُ چې خوك 80 ځله هره ورځ د پينځه واړو لمونځونو نه پس لوَلي، اِنْ شَآءَالله تعالٰی د چا محتاجه كيږي به نه.

۞ يَاوَدُوْدُ دا اِسم شريف 1000 ځله اولولئ او طعام پرې دم كړئ، د چا له طرفه چې نامُوافقت [يعني تعلقات خراب] وي، په هغه ئې اوخورئ، اِنْ شَآءَالله تعالٰی دُښمني به ختمه شي.

۞ يَامَجِيْدُ خوك چې په اُوږي كښې دا لوَلي اِنْ شَآءَالله تعالٰی د تندې [يعني تږي كيدلو] نه به په امان كښې اوسي.

۞ يَابَاعِثُ چې خوك 7 ځله اولولي او ځان پرې دم كړي او د حاكِم مخې ته ورشي اِنْ شَآءَالله تعالٰی حاكِم به پرې مهربانه شي.
۞ يَاشَهِيْدُ خوك چې سحر (د لمر خاته نه مخكښې مخكښې) د نافرمانه ماشوم يا ماشومې په تندې لاس كيږدي او د آسمان په طرف مخ كړي او دا 21 ځله اولولي اِنْ شَآءَالله تعالٰی هغه ماشوم يا ماشومه به نيك شي.

۞ يَا حَقُّ كه قيدي نيمه شپه سر تور سر 108 ځله اولولي، اِنْ شَآءَالله تعالٰی د قيد نه به خلاصے حاصل كړي.

﴾ يَاوَكِيْلُ چې څوك هره ورځ 7 ځله د مازديګر په وخت كښې لولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د آفَت نه به پناه حاصلوي.

﴾ يَاقَوِيُّ كه د جُمُعے په دويم ساعت كښې زيات لوَلي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ نِسيان (يعني د هيريدو مرض) به ئې لرې شي.

﴾ يَامَتِيْنُ په كاغذ اوليكئ او كوم ماشوم چې د پئيو نه پريك كړے شوے وي په هغه ئې اوځنبئ په سكون به شي، او د كومې مور پئ چې كم وي نو هُم دا اِسمِ پاك اوليكئ او پرې اوئے ځنبئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ پئ به زيات شي.

﴾ يَاوَلِيُّ چې څوك دا اِسمِ مبارك زيات لولي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د هغه ښځه به د هغه فرمانبرداره شي.

﴾ يَاحَمِيْدُ د چا چې د ګنده خبرو كولو عادت نه ختميږي هغه دِ دا 90 ځله اولولي او تشه پياله يا ګلاس دِ پرې دم كړي. د ضرورت مطابق دِ په هغې كښې اوبه څښي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د ګنده خبرو عادت به ئې ختم شي. (يو پيره دَم شوے ګلاس كلونو پورې استعمالولے شي)

﴾ يَامُحْيِيُ 7 ځله اولولئ او ځان پرې دم كړئ، كه ګيس وي، يا خيټه كښې يا كه په هر ځائے درد وي يا د كوم اندام د ضائع كيدو ويره وي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ فائده به كيږي. (د علاج ميعاد: د شفا حاصليدو پورې هره ورځ كم از كم يو ځل)

۞ يَامُحۡيِيۡ يَامُمِيۡتُ هره ورځ 7 ځله لولئ او ځان پرې دموئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ جادو به اثر نه کوي.

۞ يَاحَيُّ څوك چې بيمار وي دا اِسم دِ 1000 ځله اولولي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ صِحت ياب به شي.

۞ يَاقَيُّوۡمُ د سحر په وخت کښې چې څوك دا په کثرت سره لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغه تَصَرُّف به په زړونو کښې ظاهر شي يعني خلق به هغه خوښوي.

۞ يَاوَاجِدُ چې څوك د طعام خوړلو په وخت کښې په هره نوَړئ لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه خوراك به د هغه په خيټه کښې نور جوړ شي او بيماري به ترينه لرې شي.

۞ يَامَاجِدُ چې څوك لس ځله لوَلي او شربت وغيره پرې دموي او څښي ئې، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ نه به بيماريږي.

۞ يَاوَاحِدُ څوك چې په يواځې ځائے کښې ويريږي، هغه دِ په يواځې ځائے کښې دا 1001 ځله اولولي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغه د زړه نه به ويره ختمه شي.

۞ يَااَحَدُ څوك چې دا اِسم 9 ځله اولولي او د حاکِم مخې ته ورشي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ عِزَّت او سرفرازي [يعني کاميابي] به حاصلوي. څوك چې يواځې دا 1000 ځله اولولي نيك به جوړ شي. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ

﴾ يَا صَمَدُ خوك چې دا 1000 ځله اولولي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د دُښمن خلاف به فتح حاصلوي.

﴾ يَا قَادِرُ خوك چې د اوداسه كولو وخت كښې د هر اندام وِينځلو په دوران كښې د لوستلو معمول جوړ كړي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ دُښمن به ئې نه شي تښتولے.

يَا قَادِرُ كه څه مشكل پيښ شي نو دا 41 ځله اولولئ اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ آساني به كيږي.

﴾ يَا مُقْتَدِرُ چې خوك هره ورځ 20 ځله لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د رحمتونو په سوري كښې به اوسيږي.

يَا مُقْتَدِرُ چې خوك د خوب نه رابيداريدو وخت كښې 20 ځله لوَلي د هغه په هر كار كښې به مددِ اِلٰهی شامليږي.

﴾ يَا مُقَدِّمُ خوك چې د جنګ يا ويرې په ځائے كښې د بے قرارئ په حالت كښې وي نو هغه دِ دا اِسم مبارك په كثرت سره لوَلي.

﴾ يَا مُؤَخِّرُ چې خوك هره ورځ 100 ځله لوَلي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغه ټول كارونه به پوره كيږي.

﴾ يَا اَوَّلُ چې خوك هره ورځ 100 ځله لوَلي د هغه ښځه به د هغه سره محبَّت كوي.

❁ يَاآخِرُ ځوك چې څه ځائے ته لاړ شي او دا اِسمِ پاك اولولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هلته به عِزَّت او احترام مومي.

❁ يَاظَاهِرُ د كور په ديوال اوليكئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ديوال به سلامت اوسي.

❁ يَابَاطِنُ ځوك چې چا ته امانت حواله كړي يا [څه ځيز] په زمكه كښې ښخوي نو اَلْبَاطِنُ دِ اوليكي او د هغه څيز سره دِ ئې كيږدي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هيڅ ځوك به په هغې كښې خيانت نه شي كولے.

❁ يَاوَالِي ځوك چې په تشه پياله كښې دا اوليكي او هغه د اوبو نه ډكه كړي او د كور په ديوالونو وغيره ئې واچوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه كور به د آفتونو نه محفوظه اوسي.

❁ يَامُتَعَالِي د ډيرو مشكلو كارونو د پاره د دې كثرت بيحده فائده مند دے.

❁ يَابَرُّ چې ځوك 7 ځله اولولي او ماشوم پرې دم كړي او الله تعالیٰ ته ئې حواله كړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ بالِغ كيدو پورې به هغه ماشوم د بلاگانو [يعني مصيبتونو] نه محفوظه اوسي.

❁ يَاتَوَّابُ چې ځوك د څاښت د لمانځه نه پس 360 ځله لوَلي الله تعالیٰ به هغه ته تَوْبَةُالنَّصوح نصيب كړي. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ

﴿ يَا مُنۡتَقِمُ دُښمن دوست جوړولو د پاره درې **جُمُعو** پورې دا په كثرت سره اولولئ.

﴿ يَا عَفُوُّ د چا ګناهونه چې ډير وي هغه دِ دا اِسمِ پاك په كثرت سره لوَلي **الله** تعالىٰ به په خپل فضل د هغه ګناهونه معاف كړي.

﴿ يَا رَءُوۡفُ څوك چې يو مظلوم د يو ظالم نه خلاصول غواړي دا دِ 10 ځله اولولي بيا دِ هغه ظالم سره خبره اوكړي، اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ هغه ظالم به د هغه سفارش قبول كړي.

﴿ يَا مَالِكَ الۡمُلۡك څوك چې دا په كثرت سره لولي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ خوشحاله به اوسي.

﴿ يَا ذَالۡجَلَالِ وَالۡاِكۡرَامِ د دې په كثرت سره لوستلو والا ته به خوشحالي نصيب شي. د دې لوستلو سره چې دُعا اوكړے شي نو دُعا قبليږي. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ

﴿ يَا مُقۡسِطُ د شيطاني وسوسو نه د بچ كيدو د پاره 100 ځله لوستل ډير فائده مند دي. اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ

﴿ يَا جَامِعُ د چا عزيزان او اقرِبا [يعني د خاندان كسان] كه جُدا شوي وي نو د څاښت په وخت كښې دِ غُسل اوكړي او د آسمان طرف ته دِ مخ كړي او 10 ځله دِ دا اِسم اولولي او په هر ځل [لوستلو] دِ يوه يوه ګوته بندوي بيا دِ په خپل مخ لاس راښكاږي اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ په لږه موده كښې به ټول راجمع شي.

﴿ يَاغَنِيُّ د ملا په تِـير، زنګونانو، جوړونو يا بدن کښې مو که په هر ځائے درد وي، په ناسته ولاړه روانه دا لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ درد به ختم شي.

﴿ يَامُغْنِيُ چې يو ځل اولولې او لاسونه پرې دم کړي او د درد په ځائے ئې راښکاږې نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ سکون به حاصل شي.

﴿ يَامَانِعُ که ښځه خفه شي نو خاوند او که خاوند خفه شي نو ښځه دِ اُوده کيدو نه مخکښې په بستره کښيني او دا دِ 20 ځله اولولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ روغه به ئې اوشي. (نيته: د مقصد پوره کيدو پورې)

﴿ يَاضَآرُّ، يَانَافِعُ چا ته چې څه منصب په لاس ورشي او هغه په هغې قائم اوسيدل غواړي نو هغه دِ د هرې جُمُعے په شپه او په اَيامِ بِيض (يعني د هرې اسلامي مياشتې په 13، 14، 15 تاريخ) 100 ځله دا لوَلي.

﴿ يَانَافِعُ چې څوك د كوم يو كار شروع كولو نه مخکښې 20 ځله اولولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ هغه کار به د هغه د خوښې مطابق پوره کيږي.

﴿ يَانُوْرُ څوك چې 7 ځله سُوْرَةُ النُّور او 1001 ځله يَانُورُ اولولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د هغه زړه به روښانه شي.

﴿ يَاهَادِیُ څوك چې آسمان طرف ته مخ کړي او لاسونه اوچت کړي او دا اِسم په کثرت سره اولولي او بيا لاسونه په خپل مخ او سترګو راښکاږي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د اَهلِ معرفت مرتبه به حاصلوي.

﴿ يَابَدِيۡعُ چا ته چې څه سخت مُهم پيښ وي هغه دِ 70000 [اَويا زره] ځله دا اووائي. اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی کامياب به شي.

﴿ يَابَاقِیۡ چې څوك لـمر راختلو نه مخکښې 100 ځله هره ورځ لولي اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی د غم نه به محفوظه اوسي.

﴿ يَاوَارِثُ څوك چې د دې وظيفه کوي اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی د هغه عُمر به اُوږد وي.

﴿ يَارَشِيۡدُ څوك چې د کوم کار په تدبير نه پوهيږي هغه دِ د ماښام او ماسخُتن د مينځه دا 1000 ځله اولولي اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی صحيح تدبير به ئې په زړه کښې راشي.

﴿ يَاصَبُوۡرُ چا ته چې درد، غم يا مصيبت پيښ شي دا دِ 33 ځله اولولي، اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی سکون به ورته حاصل شي.

﴿ يَامُؤَخِّرُ څوك چې دا اِسم د کوم يو لـمانځه نه پس 100 ځله لولي اِنۡشَآءَاللّٰه تعالٰی د هغه زړه به د **اللّٰه** تعالٰی په محبَّت او د هغه په ياد کښې اوسي.

## سندرغاړے دَعوتِ اِسلامي ته څنګه راغے؟

اے عاشِقانِ رسول! هر وخت د دَعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ اِنۡشَآءَاللّٰه په دوانړو جهانو کښې به کامياب ئې چنانچه د مَلِير (کراچئ) د يو اِسلامي وُرور (عُمر تقريباً 27 کاله) بيان

څه داسې دے چې زما په وړوکوالي کښې د سندرو وئيلو ډير شوق وو، په کور کښې اکثرو پروګرامونو کښې به مې فرمائشي سَندَرې وئيلې، د ښه آواز په وجه به راته ښه شاباسے ملاويدو چې په هغې به زه ډير خوشحاليدم. چې کله لږ غټ شوم نو د ګِټار (يوه د موسيقۍ آله) زده کولو شوق مې پيدا شو، او بيا باقاعده د سندرې زده کولو د پاره مې په اکيډمۍ کښې داخِله واخستله، يو څو کاله زده کولو نه پس ما د سندرو په مقابله کښې حِصَّه اخستل شروع کړل، د ټي وي په ډيرو چينلو مې هم سندرې اُووئيلې. د وخت سره سره راته شُهرت هم ملاؤ شو بيا ما ته د دُبۍ په ډيره لويه مقابله کښې د شِرکت کوَلو موقع ملاؤ شوه، د هغه ځائے نه هندوستان ته لاړم هلته تقريباً شپږو مياشتو پورې د سندرو مختلِفو مُقابلو کښې مې هم حصّے واخستلې، په لويو لويو پروګرامونو او فِلمونو کښې مې سندرې اُووئيلې او ښه نوم او مال مې اُوګټلو بيا د نورو سندرغاړو سره د دنيا مختلِفو مُلکونو کينيډا (ټورنټو، وِينکوَر)، د امريکے لسو سټيټونو (شِکاګو، لاس انجيلس، سان فراسکو وغيره) او انګلينډ (لندن) ته هُم لاړم. کله چې د لږ وخت د پاره وطن ته واپس راغلم نو د کور او محلّے خلقو مې ډيره حوصله افزائي اوکړه، حالانکه نفس ته ئې ډير خوند ورکولو خو د زړه دُنيا مې بےسکونه وه څه کمې راته محسوسيدله، زړه مې د روحانيّت طلبګار وو، لمونځ د پاره مې جمات ته تلل راتلل شروع شو نو هلته د ماسخُتن د لمانځه نه پس را ته د **فيضانِ سنّت** په **دَرس** کښې د شِرکت کولو سَعَادت ملاؤ شو، درس

راباندې ښه اُولګيدو، لِهٰذا زه به كله كله په هغې كښې كښيناستلم خو په زړه او دماغو كښې مې بيا بيا مُلك نه د بَهر تللو، د ډيرو ډيرو سندرو وئيلو، د ډير ډير دولت ګټلو او د شُهرت حاصلولو د شوق سوچ وو، دَ درس نه پس چې به څنګه اِسلامي ورور په ما باندې **اِنفِرادي كوشش** كولو ما به څه بهانه اوكړه او ترينه رُخصت به شوم . يوه شپه اوده شوم نو په خوب كښې را ته د **دعوتِ اسلامي** د يو مبلّغ ديدار اوشو چې هغه په اُوچت ځائے ولاړ دے او ما ځان طرف ته غواړي لكه چې ما د ګناهونو د دَلدَل نه د وښكلو كوشش كوي، چې كله سحر راپاڅيدم نو د خپل ژوند په موجوده انداز مې غوَر او فِكر اُوكړو خو حالت مې د ګناهونو نه ډك وو، څه وخت پس مې بل خوب اُوليدو چې هغې زه سخت اُويَروولم! څه ګورم چې زه مړ يم او غُسل راكوَلے كيږي او بيا مې ځان په برزخ كښې اوليدو، په دغه وخت كښې مې ځان دومره بے وسه محسوس كړو چې كله مې هم داسې نه وو محسوس كړي، په دغه وخت كښې مې ځان سره اووئيل: ”تا ډير مشهور كيدل غوښتل، اوس دِ اوليدل خپل اوقات!“ سحر چې مې سترګې اُوغړيدلې نو په خوَله كښې ډوب ووم او ټول بدن مې رپيدلو او پوهه شوم چې ما ته يوه بله موقع راكړے شوه او دنيا ته راوليږلے شوم، بس زما د زړه نه د سندرو خواهش بالكل ختم شو، د ګناهونو نه مې د زړه په صِدق توبه اوكړه او پخه اِراده مې اوكړه چې آئِنده به كله هم سندرې نه وايم. چې كله زما د كور كسان خبر شو نو هغوئې [دوباره د ګناهونو دلدل ته غوزولو د پاره په ما] سخت زور اولګولو خو د

الله پاك او د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په كرم باندې زما ذهن دين طرف ته پوره پوره مائل شوے وو، لِهٰذا زه په خپله فيصله باندې مضبوط اودريدلم. ما ته په دويم ځل بيا د دعوتِ اسلامي د هغه مبلّغ ديدار اوشو، هغوئي زما حوصله افزائي اُوكړه د الله پاك د دې ارشاد مبارك:

وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۶۹﴾

([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او چا چې زمونږ په لار كښې كوشش اوكړو ضرور به مونږه هغوئي ته خپلې لارې اُوښايو او بے شكه الله د نيكانو سره دے. (پ۲۱، العنكبوت:۶۹)) [د دې آيت په] مِصداق ماته مسلسل په دعوتِ اسلامي كښې اِستقامت ملاويدو. ما د لمونځونو پابندي شروع كړه، او ګيره مې پريښودله او شنه عمامه مې په سر كړه. مخكښې به ما د سندرو شعرونه وئيل او بيا د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه شائع شوي كتابونه او رسالے لوستل زما معمول جوړ شو. يوه شپه چې كله په يو كِتاب لوستلو لوستلو كښې اوده شوم نو بخت مې بيدار شو او په خوب كښې راته د خپل خوږ خوږ آقا و مولٰى مَكِّي مَدَني مُحَمَّدٍ عَرَبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار رانصيب شو، چې په دې باندې د خپل رب څومره شكر هُم ادا كړم نو كم دے، په دې باندې زما زړه ته ډيره تسلّي ملاؤ شوه. او بيا چې كله د مُفتيِ دعوت اسلامي حضرتِ علّامه حافظ مفتي محمد فاروق مدني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قبر د مُسلسل بارانونو په وجه كولاؤ شو او ما د هغوئي د صحيح سلامت بدن، د تازه كفن، د شنې عمامے او ښكلو زلفو نظارے اُوليدلې نو د خوشحالئ نه تاؤ شوم چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لرونكو باندې د

الله پاك او د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خڼكه كرم و احسان دے. دغسې مدني كار كوَلو كوَلو كښې سابقه سندر غاړے جُنيد شيخ د مَدَني ماحول په بركت نن مبلِّغ او نعت خوان جوړ شوے دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دې لِيک د وخته پورې ما ته د دعوتِ اِسلامي د ذيلي مشاورت د خادِم (يعني نګران) په حيثيّت په جمات او بازار كښې د فيضانِ سنّت د درس وركولو، د صدائے مدينه لګولو يعني د سحر لـمانځه ته د خلقو راپاڅوَلو، د علاقائي دورے برائے د نيكئ دعوت سعادت حاصِل دے. الله پاك دِ ما ته د مرګ د ساعته پورې مدني ماحول كښې استقامت رانصيب كړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د ۹۹ اَسماءُالحُسنٰى په خوب كښې ترغيب

اے عاشقانِ رسول! د دنيا مشهور و معروف سابِقه سندر غاړے **جنيد شيخ** دا "مدني ګلونه" ليكلو نه پس اَميرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ته اُووئيل چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه ما ته يو ځل بيا په خوب كښې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، او په دغه خوب كښې راته د **الله** پاك د اَسماءُالحُسنٰى يادوَلو اشاره ملاؤ شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هغه ما ياد كړل. خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! سُبْحٰنَ الله! هسې خو په حدِيث مبارك كښې د **۹۹** اَسماءُالحُسنٰى يادولو فضيلت موجود دے خو د خوش نصيبئ خبره دا ده چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب كښې تشريف راوړي او خپل عاشِق ته په خصوصيت سره ترغيب وركړي- د **۹۹** اَسمَاءُالحُسنٰى فضيلت

واورئ او خوشحاله شئ: چنانچه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د الله پاك ۹۹ نومونه دي چا چې دا ياد كړل هغه به جنّت ته داخلیږي.

(بُخاری، کتاب الشرو، باب ما یجوز من الاشراط . . . الخ، دار الکتب العلمیة بیروت)

(تفصيلي معلومات دپاره "نُزهةُالقَارِي شرح صحيح البخاري" صفحه ۸۹۵ تا ۸۹۸ مُلاحظه كړئ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


## نيك او لمونځ گزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې كيدونكي د دعوتِ إسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نِيتونو سره ټوله شپه تيروئ؛ ✿ د سُنّتو د تربيّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ✿ هره ورځ د "فِکرِ مَدينه" په ذريعه د مَدَني إنعاماتو رساله ډکوئ او د هري مَدَني مياشتي په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ؛

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولي دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش كول دي." إن شآءَالله عزوجل. د خپلي إصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولي دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش كولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر كول دي، إن شآءَالله عزوجل







فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com